مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزیز نایبي

۲۰۲۳/۰۱/۰۸

مساپر او د غزني د ژمي شپه

دوه څلوېښت کلن یم، زما په څېر په لکونو ځوانان د خپلو نااهلو سیاسي مشرانو مخونو ته هره ورځ لاړي ورتوکوي چې څنګه یې د څو نسلونو ژوند برباد کړی دی. د دوي له لاسه څوک د مور وطن له غېږې بېل شوي، څوک د تعلیم او تحصیل له نعمته بې برخې پاتې شوي، د چا کور ړنګ شوی او چا هم خپل عزیزان د اورونو او باروتو په لوګیو کې خاورو ته سپارلي دي.
هو! د افغانانو برخې خواري دي. چې لږ رنځایي ووینې، ژر یې تورتم لمن ورتوله کړي. د جګړې جغرافیه یې خاوره کې بدلیږي رابدلیږي؛ خو تغر یې نه تولیږي. که سپېږي شونډې یې لږ غوړي شي، ناامني یې په کرار نه پرېږدي. او که لوړه یې پسې واخلي، قلم کتاب پرېږدي، پردېو وطنونو کې مزدوریو ته اړم شي. د دې بدمرغو تکرارونو سلسله په رنو سترګو وینو، خو هیڅ نه ترې زده کوو.
شاه امان الله به یاد کړو، د وطن لپاره یې ستر کارونه ترسره کړل چې نښې یې اوس هم شته، خو سل افسوسه چې د کفر تاپه پرې ولګېده او د وطن د ابادۍ او پرمختګ خوب یې په اوبو لاهو شو. داود خان به یې سرتېمبه باله، د افغانستان د بنسټزو پروژو عملي چارو ته یې څه په مینه متې نغاړلې وې، خو څومره ژر یې له مخې سره چپ کړ. او بلاخره اشرف غني چې افغانستان کې یې د یوه مدرن او دوامداره سیاسي نظام لپاره راتلونکو نسلونو ته نقشه کښله، څه په ناهیلۍ د هېواد پرېښودو ته اړ ایستل شو.
د سترو کارونو د ترسره کولو په برخه کې چې د یادو واکمنانو بېړې ته سړی ځېر شي، نو دا خبره یې ذهن کې ګرځي چې کېدای شي دوی به پدې پوهېدل چې د خدمت لپاره ډېر وخت نلري، یا به یې داسې انګېرله چې افغانان د نړیوالو ټولنو د پرمختګ له کاروانه دومره وروسته پاتې دي؛ چې پلي نه، بلکې په منډه باید ځانونه وروسوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وايي يواځې خداى پوره دى؛ بنده خپلې خامپانې لري. د ارقامو په اساس د افغانستان د نفوسو اتيا سلنه خلک په کليو او بانډو کې ژوند کوي، پاتې شل سلنه نور په ښارونو کې اوسيږي. د ښونځيو او پوهنتونونو د جوړولو فکر ان زموږ د ښو واکمنيو پرمهال هم، يواځې پر څو کليدي ولايتونو راڅرخېدلى دى. پدې اساس د افغانستان اتيا سلنه نفوس د عصري زده کړو له امکاناتو څخه بې برخې يا کم برخې پاتې شويدي. همدا سبب دى چې ګزکي يې موږ اوس وينو. که چېرې زموږ واکمنانو په لرېو پرتو سيمو کې، د ښونځيو او پوهنتونونو جوړولو او سمبالولو ته لکه د لويو ښارونو پاملرنه زياته کړې واى، نن به دښمن په اسانۍ د افغانستان له کليوالو سيمو له نالوستو ځوانانو لښکرې نه شواى جوړولې، او په شواخون جوړ شوي نظامونه به يې له بېخه نه ړنګولى. د دين مقدس روايات به، په شريرو مدرسو کې د روزل شويو ملايانو په مزاج او خوښې نه تفسيرېدلى.
بدمرغي مو دا ده چې هر ځل د ابادۍ او پرمختګ لپاره کوم ګام اخيستل شوى دى، د مزله په نيمايي کې يې پښې راوهلي دي. په افغانستان کې د واکمنيو د چټکو او پرلپسې ټوکېدو او پرځېدو بهير، ما ته د غزني په ساړه ژمي کې د يوه مساپر کيسه رايياده کړه.
د غزني په ساړه ژمي کې، د يوه مساپر شپه شي. د ښار ميلمستونونه ټول له مېلمنو ډک وي او د شپې د تېرولو لپاره فالتو کوټه نه پيدا کيږي. مساپر يو سماوار ته ورځي، خو ځاى نه وي پاتې. يوه کاروان سراى ته ورشي، هلته هم رد ځواب ورکړي. مساپر له ناچاريه د کاروان سراى له چوکيداره د يويې شړۍ خواست کوي چې مقصد د سراى د انګړ په يوه څنډه کې شپه تېره کړي، چوکيدار مساپر ته وايي:
-شړۍ نه لرم، خو د خرو يو څو کټې شته.
مساپر ځواب ورکړي:
-پرېږده چې له يخه مړ شم، خو د خره کته به وانه غوندم!
مساپر د سراى انګړ کې ښکته پورته ګرځي راګرځي چې تود شي. شپه پخه شي او يخ منګولې ولګوي! مساپر بيا له چوکيداره شړۍ غواړي، خو هماغه تېر ځواب اوري، بيرته د سراى انګړ ته لاړ شي او په دې فکر کوي چې له چوکيداره د خره کته واخلي که نه؟
ګړۍ وروسته بيا چوکيدار ته ورشي او له هغه د شړۍ خواست کوي، خو چوکيدار په ځان اچولې کته وروښيي او وايي:
-که درلودى مې، ما به خپله اغوستې وه!
شپه ښه سړه شي، پاس آسمان کې ستورې ځلېږي او لاندې مساپر له يخه ريږدي. نور يې توخته نه کيږي، چوکيدار ته په منډه ورشي او ورته وايي:
-لږ پاتې ده چې له يخه مړ شم، هماغه راکړه خو نوم يې مه اخله!
مساپر د سراى د انګړ يوه ديوال ته ډډه لګوي، د خره په کته کې ځان پټ کړي څو د ژمي هغه سړه شپه سبا کړي. که څه هم کتې بوينې او ناولې وي، خو مساپر له يخه ژغوري.
کله چې د چا له اندازې زيات ساړه وشي بيا پوښتنه نه کوي چې د خره ناولې کته يې اغوستې که يوه پاکه او پسته شړۍ. افغانستان له کلونو راپديخوا يخنۍ ځپلى دى.هر څه چې وي خلک پرې راضي کيږي، مقصد دوي له يخه وژغوري. دا هيواد د پرديو د وسلو او ايديالوژيو په لابراتوار بدل شوى دى!

عبدالعزيز نايبي
۲۰۲۲/۱/۷
ستاکلهم

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ